قرآني بيان

# د اعلیٰ حضرت

# ایمانِ کامل

**15-August-2025**

د مدني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 15 اګست، کال 2025ء (بمطابق: 20 صَفَر شريف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

(پارہ:28،المجادلہ:22)

# د اعلیٰ حضرت ایمانِ کامِل

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه او تائيدِ رَبَّاني
- جاز د ډوبيدو نه بچ شو (واقعه)
- د دې وخت د ټولو نه لويه مسئله
- آيا زما د دښمن سره دې دښمني هم وساتله---؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله　　وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةِ الْجُمُعَةِ مِائَةَ مَرَّةٍ، قَضَى اللهُ لَهُ مِائَةَ حَاجَةٍ، سَبْعِيْنَ مِنْ حَوَائِجِ الْاٰخِرَةِ وَثَلَاثِيْنَ مِنْ حَوَائِجِ الدُّنْيَا۔ خوک چې پۀ ما باندې د جُمعې پۀ شپه او د جُمعې پۀ ورځ 100 کرته دُرُود شريف ولولي الله پاک به د هغه 100 حاجتونه پوره کړي، 70 د اخرت او 30 د دُنيا۔ [1]

وِرد جس نے کیا درود شریف　　اور دل سے پڑھا درود شریف
حاجتیں سب روا ہوئیں اس کی　　ہے عجب کیمیا درود شریف [2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

اُولٰٓىِٕكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ط (پاره:28، سورة المجادله:22)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] ... شعب الايمان، باب فی الصلوات، فضل الصلاة على النبى...الخ، جلد:3 صفحه:111، حديث:3035۔

[2] ... کافی کی نعت، صفحه:40۔

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا هغه خلق دي د کومو پهٔ زړونو کښې چې اللّٰه ایمان نقش کړو او له خپله طرفه یې د رُوح پهٔ ذریعه د هغوئي مدد وکړو۔

## د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مختصر تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ❀ اعلیٰ حضرت، شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د تیرې صدۍ ډیره د اوچتې مرتبې هستي ده ❀ هغوئي د سُنیانو اِمام دے ❀ د حق پیژندګلو ده ، د هغوئي برکتي ذات د اِسلامي دُنیا د پاره ډیر لوئي نعمت دے ❀ کله چې غیر مسلمو (***Non-Muslims***) د اِسلام خلاف سازشونه کول ❀ بد مذهبي بام ته رسیدلې وه ❀ بدعتونه عام کیدل ❀ مَعَاذَالله! د قرآنِ پاک د آیتونو د مفهوم بدلولو نا پاک کوششونه کیدل ❀ د اِسلامي تعلیماتو (***Islamic Teachings***) د بدلولو جرأت کیدلو ❀ د دې فِتنو پهٔ وخت کښې **اللّٰه** پاک د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ شکل کښې اِسلامي دُنیا ته یو عظیم نعمت ورعطا کړو، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مُجَدِّد په حیثیت تشریف راوړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❀ هغوئي د فتنو سرونه وچقول ❀ د غیر مسلمو سازشونه یې ناکامه کړل ❀ د بد مذهبۍ زور یې مات کړو ❀ بدې عقیدې یې ختمې کړې ❀ د اصلي اِسلامي عقیدو یې صحیح تشریح وکړه ❀ پهٔ اِسلامي عقیدو باندې ❀ د اِسلام پهٔ اعلیٰ تعلیماتو باندې ❀ د قُرآن پهٔ عزت او حُرمت باندې ❀ د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عزت او د ناموس خوکۍ یې وکړه ❀ بدعتونه یې ختم کړل ❀ سُنَّت یې عام کړل ❀ د معاشرې اِصلاح یې وکړه ❀ پهٔ خلقو یې د عشقِ رسول جامونه وڅښل او ❀ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! فتنې یې ختمې کړې او د دِین جنډا یې اوچته کړه۔

| | |
|---|---|
| تُو نے باطِل کو مِٹایا اے امام احمدرضا! | دِین کا ڈَنکا بَجایا اے امام احمد رضا! |
| زور باطِل کا، ضَلالت کا تھا، جس دَم ہند میں | تُو مجدِّد بَن کے آیا، اے امام احمدرضا! |
| اہلِ سنّت کا چمن سر سبز تھا، شاداب تھا | تازگی تُو اور لایا، اے امام احمد رضا! |

تُونے باطِل کو مِٹا کر دِین کو بخشی جِلا | سنّتوں کو پھر جِلایا اے امام احمدرضا![1]

**پهٔ 25 صَفَر شریف د هغوئي عُرس وي**، اَلْحَمْدُلِلّٰه! عاشقانِ رسول ډیر پهٔ مینه محبت د خپل امام، امامِ اهلِسُنَّت سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عرس مبارک او خوشحالیٔ کوي۔ **الله** پاک دې د خپل کامِل ولي سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ وسیله مونږ ټولو ته د رحمت پهٔ نظر وګوري، چې زمونږه د عشقِ رسول دولت نصیب شي، د فتنو نه پهٔ ډک دور کښې پهٔ ایمان باندې اِستقامت او پهٔ اخرت کښې بغیر د حِساب نه جنَّت ته داخلیدل مو نصیب شي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

کیا خُوب اہتمام ہے، کیا اِنصرام ہے | یومِ رضا ہے چاروں طرف دُھوم دھام ہے

راځئ چې د قرآنِ کریم د یو آیت مبارک پهٔ رڼا کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د پاک سیرت د یو اړخ د اوریدو سعادت حاصل کړو۔

## د آیت مبارک مختصر وضاحت

مونږه پهٔ شروع کښې د 28 سیپارې، د سُورَۀ مُجَادَلَة د آیت: 22 د څهٔ حصې د اوریدو سعادت حاصل کړو، **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ (پاره:28، سورۀ المجادله:22) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا هغه خلق دي د کومو پهٔ زړونو کښې چې الله ایمان نقش کړو او له خپله طرفه یې د رُوح پهٔ ذریعه د هغوئي مدد وکړو۔ |

دا د کامِل ایمان والؤ، د اوچتې مرتبې د عاشقانِ رسول د شان بیان دے، دلته دوه خبرې اِرشاد شوې: **(1)**: کوم چې د اوچتې مرتبې عاشقانِ رسول دي، رَبِّ کریم د هغوئي پهٔ زړونو باندې ایمان نقش فرمائي **(2)**: د خپل طرف نه د یو رُوح (مثلاً رُوحُ القدس حضرت

1...وسائلِ بخشش، صفحه:525۔

جبریل عَلَیْہِ السَّلَام) په ذریعه د هغوئي خاص مدد او تائید فرمائي۔ [1]

## د اعلیٰ حضرت د سیرت خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د آیت مبارک هٔغه حصه ده، د کوم نه چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د پیدائش تاریخ ماخُوذ دے، یعنې د هغوئي دُنیا ته د راتللو کال دے: 1272 او د آیت مبارک د دې حصې چې کوم اعداد دي هغه هم 1272 دي۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پاک سیرت ته چې وګورئ نو د دې آیت مبارک ټول فیضان به درته د هغوئي په ذات کښې په نظر راشي، که ووئیلے شي چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ 68 کاله ژوند مبارک په یوه جمله کښې بیان کړئ! نو دا په پوره یقین سره وئیلے کیدے شي چې

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُؕ (پارہ:28، سورۂ المجادلہ:22) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: دا هٔغه خلق دي د کومو په زړونو کښې چې اللّٰه ایمان نقش کړو او له خپله طرفه یــې د رُوح په ذریعه د هغوئي مدد وکړو۔ |

یعنې اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په هٔغه پاکو هستیانو کښې دے د کومو په زړونو باندې چې اللّٰه پاک ایمان نقش کړے دے او د هغوئي خاص مدد او تائید یــې کړے دے۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا دواړه صفتونه (1): مضبوط اِیمان (2): تائیدِ رَبَّانی (یعنې د اللّٰه پاک خاص مدد او نصرت) د هغوئي د پاک سیرت سره سنګ په سنګ روان دي، تاسو دا آیت مبارک په خپل ذِهن کښې کښینوئ! بیا حیاتِ رضا لوستل شروع کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! یوه یوه صفحه لولئ، د دې آیت مبارک فیضان به د هغوئي په ذات مبارک کښې وینئ۔

---

[1] ...تفسیر قرطبی، پارہ:28، المجادلہ، زیرِ آیت:22، جلد:9، جز:17، صفحہ:192 ملتقطًا۔

# اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ او تائیدِ رَبَّاني

❁ د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ عمر مبارک صرف 4 کاله وو، دلته عام طور د 4 کالو ماشوم صحیح خبرې هم نهٔ شي کولے، عام طور ماشوم تتې تتې خبرې کوي، بلکې بعضې خو پهٔ دې عمر کښې فیډر خښبي خو اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د 4 کالو پهٔ عمر مبارک کښې د قرآنِ کریم ناظره ختمه کړې وه ❁ عام طور د 6 نه د 7 کالو د ماشومانو د پئیو غاښونه ووځي، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ دې عمر کښې د ډېرو علمائے کرامو او مشائخو پهٔ موجودګۍ کښې خلقو ته تقریر کولو ❁ د 8 کالو ماشوم چې وي او هغهٔ د ځان سره چرته بوځې نو هغه باقاعده پوهه کول غواړي چې ځویه! هلته لاړ شې نو دا مهٔ کوه، هُغه مهٔ کوه، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ عمر مبارک 8 کاله وو، چې هغوئي پهٔ درسِ نظامي کښې پهٔ لوستلے کیدونکي د عربۍ پهٔ کتاب باندې، پهٔ عربۍ ژبه کښې حاشیه لیکله [1] ❁ د 13 کالو 10 میاشتو 4 ورځو عمر مبارک کښې هغوئي وړومبۍ فتویٰ ولیکله او باقاعده د مفتي پهٔ مسند باندې تشریف فرما شو [2] ❁ عمر مبارک یې 22 کاله وو چې هغوئي د شاه آلِ رسول رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ خدمت کښې د بیعت د پاره حاضر شو، د شاه آلِ رسول رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ انداز مبارک وو چې څوک به هم د بیعت د پاره راتلل، پهٔ هغوئي باندې به یې تر ډېرو کلونو پورې مجاهده کوله، ریاضتونه به یې پرې کول خو قربان شم چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ لا د 22 کالو ځلمے دے، د شاه آلِ رسول رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ پهٔ خدمت کښې حاضر شو، هغوئي چې ورته شنګه وکتل نو اوئې فرمائیل: راځئ! مونږ خو د ډېرو ورځو نه انتظار کولو- [3] بیا هم پهٔ وړومبي ملاقات کښې هغوئي خپل قابل او نوي مُرید

---

1... فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:85و 86 ملتقطًا خلاصةً۔

2... حیاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:171۔

3... فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:316۔

ته خلافت هم ورعطا کړو، نور مریدان حیران وو چې د دې آستانې نه خلافت اخستل دومره اسان نۀ دي، تر ډیرو کلونو پورې محنت کول وي، بیا دا نعمت میلاؤیږي، پۀ احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه باندې دومره عنایت ولې؟ د پیر صاحِب نه یې د دې حِکمت پۀ باره کښې پوښتنه وکړه، د هغوئي پۀ سترګو کښې اوښکې راغلې او بیا یې وفرمائیل: اے خلقو! تاسو احمد رضا څۀ پیژنئ--! بیا یې وفرمائیل: زۀ فِکر مند ووم که الله پاک د قیامت پۀ ورځ وفرمائیل چې اے آلِ رسول! تا د دُنیا نه زما د پاره څۀ راوړي دي؟ نو زۀ به څۀ جواب ورکووم- اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! نن مې هغه فِکر ختم شو- اوس که الله پاک زما نه پوښتنه وکړه چې آلِ رسول! د دُنیا نه دې څۀ راوړي دي نو زۀ به مولانا احمد رضا پیش کووم-

روزِ محشر اگر مجھ سے پوچھے خُدا | بول آلِ رسول تُو لایا ہے کیا
عرض کر دوں گا لایا ہوں احمد رضا | یاخُدا یہ امانت سلامت رہے

مسلکِ اعلیٰ حضرت سلامت رہے

شاه آلِ رسول رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نور وفرمائیل: (خلقو! واورئ--!) نور خلق د زنګ وهلو زړونو سره راځي، هغوئي تیارول غواړي، احمد رضا د صفا سوترا زړۀ سره بالکل تیار راغلے دے، دۀ ته خو صرف د نسبت ضرورت وو- [1]

اَللّٰهُ اَکۡبَر! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اندازه ولګوئ چې د زړۀ پوره پاکي، پوره صفائي که پکار وي نو صوفیائے کرام فرمائي: چې دې د پاره د 80 کالو محنت پکار دے- [2] خو دلته یو 22 کلن ځلمے د اوچتې مرتبې د وليُّ الله نه اِجازت او خلافت حاصلوي، د کامِل پیر مرتبه حاصلوي، چې دا د الله پاک خاص مدد او عنایت نۀ دے نو نور څۀ دي---

بولے مرشد یہ مُصَفّٰی قلب لے کر آئے ہیں | یہ تو زُہدو اِتّقَا کے بَن کے پیکر آئے ہیں

---

1...فیضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:317 خلاصةً۔

2...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:59۔

| | |
|---|---|
| دل اگر مَیلا رہے تو ہے صفائی ناگزیر | اِن کا دل ہے پاک اور روشن ہے پہلے سے ضمیر |
| صِرف نسبت کی اِنہیں حاجت تھی نسبت مِل گئی | غوثِ اعظم کی غُلامی کی سعادت مِل گئی |

د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ د ژوند مبارک دې کمال ته وګورئ چې هغوئي په 105 علومو باندې کامِل مهارت لرلو او مهارت هم داسې چې د زمانې لوئي لوئي عالِمان او مشائخ به د لرې لرې نه راتلل او د هغوئي شاګردي به يــې اِختياروله، هغوئي چې کله په دويم ځل د حج د پاره لاړل نو د لرې لرې نه راتلونکو د عربو علمائے کرامو د هغوئي نه د عِلمِ حديث اجازتونه اخستل، يو ځل د عربو يو عالِمِ دِين په سفر کولو د هغوئي خوا له بريلي ته راغلو او شاګردي يــې اختيار کړه، هغوئي داسې مهارت لرلو او دا مهارت صرف په يو عِلم کښې نهٔ بلکې په 105 علومو کښې وو، دا په خُله وئيل او اوريدل اسان دي خو کوم خلق چې ***PhD*** کوي، لږ د هغوئي نه معلومات وکړئ چې په ***PhD*** کولو د انسان وينبته سپين شي، کيدے شي چې د ***PhD*** په کلاس کښې د 30 کالو نه کم عمر والا خوک هم ميلاؤ نهٔ شي، دا په يو عِلم کښې د ***PhD*** کولو موده ده، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ شان ته وګورئ لکه چې په هر يو عِلم کښې يــې بيله بيله ***PhD*** کړې وي، صرف 68 کاله په دُنيا کښې تيرولو والا ګس په دومره علومو باندې داسې مهارت څنګه حاصلولے شي؟ عقل ورته حيرانيږي، اخر هم دا وئيلے کيږي چې په هغوئي باندې د **اللّٰه** پاک خاص عنايتونه وو، ګني نو داسې کارنامې د **اللّٰه** پاک د خاص مدد نه بغير ممکنې نهٔ دي۔

## د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہ کامِل اِیمان

بيا لږ د هغوئي کامِل ايمان ته وګورئ! پخپله فرمائي: که زما زړهٔ دوه ټوټې کړے شي نو په يو باندې به لَاۤ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ او په بَله باندې به مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰہ ليکلې شوي وي۔ (1)

1...سوانح امام احمد رضا، صفحه:94۔

خُدا ایک پر ہو تو اِک پر مُحَمَّد | اگر قلب اپنا دو پارا کروں میں[1]

سُبْحٰنَ الله! د هغوئي د کامِل ايمان څومره ښکلے شان دے- هسې خو هغوئي ډيرې عاجزي کولو والا وو خو په دې ځائے کښې د تحديثِ نعمت د پاره لکه چې پخپله وائي چې په ما باندې د رَبِّ رحمان اِنعام دے چې زما په زړۀ باندې اِيمان نقش کړے شوے دے-

## زۀ د ستورو جوړولو والا قدرت ته ګورم

واقعه ډيره مشهوره ده، يو ځل يو کَس حاضر شو، کوم چې په عِلمِ نجوم کښې ډير مهارت لرلو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ترينه پوښتنه وکړه: وفرمايئ چې د باران څۀ اندازه ده؟ تر څو پورې به وريږي؟ نجومي صاحب د خپل عِلم مطابق کرښې وغيره راښکلې، د ټول حساب کتاب کولو نه پس يې ووئيل: په دې مياشت کښې باران نشته، په بله مياشت کښې به کيږي- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير په اطمينان او يقين سره وفرمائيل: **الله** پاک ته ټول قدرت حاصل دے، که هغه وغواړي نو هم نن به باران وکړي- نجومي صاحب په خبره پوهه نۀ شو، اوئې وئيل: دا څنګه کيدے شي؟ تاسو ته خو هم د عِلمِ نجوم پته ده، د ستورو چال ته خو وګورئ!

اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغوئي د پوهه کولو د پاره اسان انداز اختيار کړو، مخامخ ګړي لګيدلې وه، هغوئي پوښتنه وکړه: ووايئ چې اوس څو بجې دي؟ نجومي صاحب ووئيل: پاؤ باندې يولس- پوښتنه يې وکړه: دولسو بجو ته څومره وخت پاتې دے؟ اوئې وئيل: 45 منټه- اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پاځيدو او په لاس باندې يې غټه ستن تاؤ کړه، فوراً 12 بجې شوې- اوئې فرمائيل: تاسو خو وئيل چې 45 منټه پس به 12 بجې کيږي، دا خو اوس شوې- نجومي صاحب ووئيل: تاسو ستن تاؤ کړه، ګنې نۀ به کيدے، اوئې فرمائيل: زۀ خو هم دا وايم، تاسو ستورو ته ګورئ، زۀ د ستورو جوړولو والا قُدرت ته ګورم، هغۀ چې کوم

---

1...سامانِ بخشش، صفحه:153۔

ستوري ځنګه غواړي تاوهلے يـې شي، هُغه رَبِّ قادِر او قيوم که وغواړي نو مياشت خو غتېه خبره ده، اوس به پۀ دې ساعت باران شي- بس د هغوئي د خُلې نه دومره وتل وو چې وريځې راغلې او باران شروع شو- (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے،

اُولٰٓىِٕكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ (پارہ:28، سورۃالمجادلہ:22)

ترجمہ کنزُالعِرفان: دا هُغه خلق دي د کومو پۀ زړونو کښې چې الله ايمان نقش کړو او له خپله طرفه يـې د رُوح پۀ ذريعه د هغوئي مدد وکړو-

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ خومره د کامِل ايمان والا وو، هغوئي پۀ ستورو باندې نۀ بلکې د ستورو جوړولو والا پۀ قُدرت نظر لري، ورسره د **الله** پاک خاص تائيد او مدد ته وګورئ چې دلته د هغوئي د خُلې مبارکې نه ووتل، هلته باران شروع شو-

## اے الله! طبيب دروغژن او حبيب رښتيا کړې

يو ځل داسې وشو چې پۀ هندوستان کښې د طاعون وبا راغله، دا ډېره خطرناکه او مهلکه بيماري وي، پۀ دې کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ هم بيمار شو، سخته تبه يـې وه، د غوږونو نه شاته غوټې او ووريې يـې وپړسيدلې، خبرې او خوراک څښاک کول ورته ګران شو- طبيب راوغوښتے شو، پۀ هغۀ باندې معائينه وکړے شوه، د ښۀ کتنې نه پس يـې 7، 8 کرته ووئيل: دا هم هُغه دے، دا هم هُغه دے، يعني طاعون مرض دے- اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: ما خو خبرې نۀ شوې کولے، البته! د زړۀ نه مې پوخ يقين لرلو چې نۀ زما طاعون دے او نۀ به چرې شي-

دا يقين د هغوئي ولې وو؟ ځکه چې پۀ حديثِ پاک کښې دُعا ښودلے شوې ده او د

---

1...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحه:132۔

حُضُور اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد مبارک دے چې کوم بنده چي څوک په مصيبت کښې ووينې او دا دُعا ولولي، د هٰغه مصيبت نه به محفوظ وي، هٰغه دُعا دا ده:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ عَافَانِیْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِیْ عَلٰی کَثِیْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِیْلًا

ترجمه: د الله پاک شُکر دے، کوم چې ما ته د دې مصيبت نه عافيت راکړو، په کوم کښې چې يـې تهٔ اخته کړې او ما ته يـې په خپل ډير مخلوق باندې فضيلت راکړو۔

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د طاعُون والا مريض په ليدو هٰغه دُعا لوستلې وه، ځکه زما د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمان باندې پوره يقين وو چې زما چرې هم طاعُون نهٔ شي کيدے۔ فرمائي: شپه وه، بيماري خطرناک حد ته رسيدلې وه، ډير درد مې محسوسولو، ما په زړهٔ زړهٔ کښې دُعا وکړه: اَللّٰھُمَّ صَدِّقِ الْحَبِیْبَ وَکَذِّبِ الطَّبِیْبَ اے الله پاکه! د حبيبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتيا کيدل او د طبيب دروغژن کيدل ظاهر کړې۔ لا مې دا دُعا کړې وه چې په غوږ کښې اواز راغلو: مسواک او مرچ۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مرچ مې وتکول او د هغې سره مې مسواک وکړو، الله پاک شِفا راعطا کړه۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره کمال دے---!! يو طرف ته د هغوئي کامِل ايمان دے چې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمان باندې کامِل يقين لري، د ډاکټر د تشخيص نه اِنکار کوي، بل طرف ته د الله پاک خاص تائيد او مدد ته وګورئ! په غائبانه توګه هغوئي ته عِلاج وښودلے شو او د هغوئي شِفا نصيب شوه۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## جاز د ډوبيدو نه بچ شو

سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ورومبي ځل د خپل مور او پلار سره د حج د پاره روان وو، هٰغه وخت د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمر مبارک 22 کاله او يو څو مياشتې وو،

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:69 و 71 ملتقطًا خلاصةً۔

دا سفر د سمندري جاز په ذریعه وو، په واپسی کښې په سمندر کښې تر دریو ورځو پورې سخت طوفان وو، دومره سخت طوفان وو چې خلقو د بچ کیدو طمع پریښودې وه او کفنونه یې اغوستي وو- سیدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: هغه وخت د مور بي بي نا قراري چې مې ولیدله نو د هغې د تسلۍ د پاره مې بے اختیاره د خُلې نه ووتل، تاسو یقین ساتئ، په خُدائے مې دې قَسم وي چې دا جاز به نۀ ډوبیږي- اوس حالاتو ته وګورئ او غور وکړئ چې یو طرف ته دا حالت دے چې خلقو د ژوند طمع پریښودې ده او بل طرف ته سیدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ دے چې قَسم خوري او وائي چې جاز به نۀ ډوبیږي، دا قَسم اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ولې خوړلے وو، د دې په وضاحت کولو فرمائي: دا قَسم ما د دې حدیث په اِطمینان باندې خوړلے وو په کوم کښې چې په کشتۍ کښې د کیناستو په وخت د غرقیدو نه د حفاظت دُعا اِرشاد شوې ده، ما هغه دُعا لوستلې وه ځکه د حدیثِ پاک په رښتوني وعده باندې مطمئین ووم- [(1)]

سُبۡحٰنَ اللّٰه! قربان شم د سیدي اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د داسې کامِل یقین نه-

کیدے شي چې دا د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د هغې کامِل یقین برکت وو چې هغه طوفان کوم چې تر دریو ورځو پورې جاري وو، په 2 ګینټو کښې بالکل ودریدو او جاز بچ شو-

اَلْبَحْرُ عَلَا وَ الْمَوْجُ طَغٰی، مَنْ بے کَس و طُوفَان هَوْش رُبا
مَنْجُدھار میں هُوں بِگڑی ہے هَوا، مَوْرِیْ نَیّا پَار لگا جانا[(2)]

**وضاحت:** یعني یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! په سمندر کښې طوفان دے، د اوبو چپې راوچتې شوې دي، زۀ بے وسه یم او طوفان داسې چې بنده حیرانوي، یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په داسې حالت کښې زما کشتۍ د سمندر په مینځ کښې انښتې ده، هوا هم د مخالف طرف نه ده، اوس هم بس تاسو ته کاتۀ دي، زما کشتۍ غاړې ته ورسوئ!

---

1...ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:181، 182 خلاصةً-

2...حدائقِ بخشش، صفحه:43-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د سیرت نه دا یو څو مثالونه وړاندې کړے شو، تاسو اندازه ولګوئ چې دا هم د دې آیت مبارک فیضان دے کوم چې د هغوئي په سیرت مبارک کښې واضحه په نظر راځي چې

| | |
|---|---|
| اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِیۡ قُلُوۡبِهِمُ الۡاِیۡمَانَ وَ اَیَّدَهُمۡ بِرُوۡحٍ مِّنۡهُ ؕ (پاره:28، سورۂ المجادله:22) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا هغه خلق دي د کومو په زړونو کښې چې اللّٰه ایمان نقش کړو او له خپله طرفه یې د رُوح په ذریعه د هغوئي مدد وکړو۔ |

## د کامِل ایمان کوشش کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دې کښې زمونږ د پاره سبق دے، مونږ له هم پکار دي چې پوخ ایمان ساتو، د اللّٰه او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فرامینو باندې پوخ یقین ساتو، اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! د غیبو نه به را ته تائید او مدد حاصلیږي۔ **اللّٰه** پاک په قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اَنۡتُمُ الۡاَعۡلَوۡنَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ ﴿۱۳۹﴾ (پاره:4، سورۂ آلِ عمران:139) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: که تاسو ایمان والا یئ نو هُم تاسو به غالِب کیږئ۔ |

یعنې اے مسلمانانو--!! اے د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامانو--!! غالِب به هم تاسو یئ بس شرط یو دے: رښتوني اِیمان والا شئ! په **اللّٰه** پاک باندې کامِل باور لرونکي جوړ شئ--!! که دا یو شرط پوره کړے شي، ایمان رښتونے او یقین پوخ کړے شي نو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! مسلمانان به همیشه غالب وي۔

غُلامی میں نہ کام آتی ہیں شمشیریں، نہ تدبیریں
جو ہو ذوقِ یقیں پیدا تو کٹ جاتی ہیں زنجیریں(1)

وضاحت: انسان چې کله غلام جوړ شي نو نهٔ یې توري پکار راځي او نهٔ د عقلمندو

---

1...کلیاتِ اقبال، بانگِ درا، صفحه:301۔

تدبیرونه پکار راځي، دا بس صرف د یقین ذوق دے، چې دا نصیب شي نو د هر مشکل حل راؤځي۔

## د دې وخت د ټولو نه لویه مسئله

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! کاش چې زمونږه هم داسې پوخ یقین نصیب شي! د دې دور د ټولو نه لویه مسئله چې څۀ ته مونږ وئیلے شو، هغه د بے یقینئ حالت دے۔ نن صبا مسلمان اُمت پۀ مجموعي توګه د ډیرو مسئلو سره مخ دے ❀ غریبي عامه ده ❀ مشکلات دي، هر دویم کَس پۀ مشکلاتو کښې راګیر دے ❀ جنګ جګړې دي ❀ بے اتفاقي ده ❀ د دُنیا پۀ ډیرو ځایونو کښې خو مسلمانان د ظلم زور ښکار دي، **اللّٰه** پاک دې د هغوئې غیبي مدد وکړي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانانو پۀ تاریخ کښې غوره کارنامې تر سره کړې دي، **اللّٰه** پاک مسلمانانو له ډیر شان او شوکت ورکړے دے خو اوس حالات څۀ بل شان روان دي، د دې څۀ وجه ده؟ د دې که تجزیه وکړے شي نو کیدے شي چې ډیرې وجهې زمونږ مخې ته راشي خو د دې ټولو یوه وجه کومې ته چې کیدے شي د ټولو نه لویه وجه هم وئیلے شي، هغه بے یقیني ده۔ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک واورئ! د مشهور صحابئ رسول حضرت اَبُو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے، رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَا اَخَافُ عَلٰى اُمَّتِى اِلَّا ضِعْفَ الْيَقِيْن یعني زما پۀ خپل اُمت ویره نشته خو د یقین د کمزورۍ۔ [(1)]

یو بل حدیثِ پاک واورئ! رسولِ رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: نَجَا اَوَّلُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ بِالْيَقِيْنِ وَالزُّهْد د دې اُمت وړومبو خلقو د یقین او د دُنیا نه د بے رغبتۍ پۀ ذریعه نجات حاصل کړو وَيَهْلِكُ آخِرُ هٰذِهِ الْاُمَّةِ بِالْبُخْلِ وَالْاَمَل او د دې اُمت پۀ اخره کښې

---

1 ...موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الیقین، جلد:1، صفحه:24، حدیث:9۔

راتلونکي د کنجوسۍ او د اوږدو اُمیدونو په وجه هلاک شو- (1)

**اللہ** پاک دې زمونږه کامِل اِیمان او پوخ یقین نصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

## د کامِل ایمان یوه نخښه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه آیت مبارک واوریدو، رَبِّ کریم فرمائي:

| | |
|---|---|
| اُولٰٓىٕكَ كَتَبَ فِیْ قُلُوْبِهِمُ الْاِیْمَانَ وَ اَیَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُؕ (پاره:28، سورۂ المجادله:22) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** دا هغه خلق دي د کومو په زړونو کښې چې اللہ ایمان نقش کړو او له خپله طرفه یې د رُوح په ذریعه د هغوئي مدد وکړو- |

اوس په دې آیت مبارک باندې د یو بَل اړخ نه غور وکړئ! **اللہ** پاک فرمائي: اُولٰٓىٕكَ- د دې معنیٰ ده : هغه خلق- سوال دے چې کوم خلق؟ **اللہ** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَا تَجِدُ قَوْمًا یُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَ الْیَوْمِ الْاٰخِرِ یُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَ لَوْ كَانُوْۤا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِیْرَتَهُمْؕ (پاره:28، سورۂ المجادله:22) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** ته به داسې خلق نۀ مومې چې کوم په اللہ او د اخرت په ورځ ایمان لري چې هغوئي د هغه خلقو سره دوستي وکړي کومو چې د اللہ او د هغه د رسول نه مخالفت وکړو اګر که هغوئي یې پلاران یا ځامن یا ورونړه یا خاندان [کورنۍ] والا وي- |

یعني اے محبوبِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څوک چې هم ستاسو غلام دے، په تاسو باندې اِیمان لرونکے دے، په **اللہ** پاک باندې او په قیامت باندې اِیمان لري، داسې کیدے نۀ شي چې هغه د اللہ او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دښمنانو

---

1 ...موسوعه ابن ابی دنیا، کتاب الیقین، جلد:1، صفحه:19، حدیث:3-

سره دوستي وساتي، بيا هغه د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دښمنان که هغهٔ ته هر څومره نزدې ولې نهٔ وي، که پلار يې وي، که ځوي يې وي، که ورور يې وي، که د خاندان بل يو کَس وي، کوم چې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دښمن دے، کامِل ايمان والا د هغهٔ سره دوستي هډو کولے نهٔ شي او څوک چې داسې کامِل ايمان والا دے، کوم چې ستاسو د دښمنانو سره دوستي نهٔ کوي، د هغهٔ عشق هغه مجبوره کوي، د کوم چې دا نظريه ده:

اپنا عزیز وہ ہے جسے تُو عزیز ہے | ہم کو ہے وہ پسند جسے آئے تُو پسند[1]

څوک چې داسې کامِل ايمان والا دے، هغوئي ته کوم کوم نعمتونه عطا کولے شي---؟ رَبِّ کريم فرمائي:

أُولَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ أُولَٰٓئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾

(پارہ:28، سورۂ المجادلہ:22)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا هغه خلق دي د کومو په زړونو کښې چې الله ايمان نقش کړو او له خپله طرفه د رُوح په ذريعه يې د هغوئي مدد وکړو او هغه به هغوئي هغه باغونو ته داخلوي د کومو لاندې چې نهرونه بهيږي په هغو کښې به هميشه اوسيږي، الله د هغوئي نه راضي شو او هغوئي د الله نه راضي شول، دا د الله ډله ده، واورئ! هُم د الله ډله کاميابه ده۔

اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې آيت مبارک په وضاحت کښې فرمائي: په دې آيت مبارک کښې صفا فرمائيلے شوي دي چې څوک د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې ګستاخي کوي، مسلمان به د هغهٔ سره دوستي نهٔ کوي، د کوم چې واضحه

---

1…ذوقِ نعت، صفحه:126۔

مطلب دا شو چې څوک د هغهٔ سره دوستي کوي، هغه به مسلمان نهٔ وي- بیا د دې حُکم قطعاً عام کېدل، بِالتَّصرِیح (یعنې د وضاحت سره) ارشاد فرمائي چې پلار، ځوي، ورور، خپلوان ټول یې یاد کړهٔ، یعنې که څوک هر څومره هم تاسو ته نزدې او هر څومره هم طبعي طور ستاسو خوښ وي، که اِیمان وي نو د ګستاخۍ نه پس د هغهٔ سره محبت نهٔ شې ساتلے، د هغهٔ قدر نهٔ شې کولے ګنې مسلمان به نهٔ پاتې کیږې- د **اللّٰه** پاک دومره فرمائیل د مسلمان د پاره بس وو، خو وګورئ چې هغه تاسو د خپل رحمت طرف ته رابلي، د خپلو عظیمو نعمتونو لالچ درکوي چې که د اللّٰه او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عظمت پهٔ مخکښې تاسو د چا خیال اونهٔ ساتو، د چا سره مو تعلق اونهٔ ساتو نو ستاسو به کومې کومې فائدې نصیب کیږي:

(1): اللّٰه پاک به ستاسو پهٔ زړونو کښې اِیمان نقش کړي پهٔ کوم کښې چې اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د ښې خاتمې عظیم زیرے دے چې د **اللّٰه** پاک لیکلے شوي نهٔ ورانیږي (2): اللّٰه پاک به پهٔ روحُ القدس سره ستاسو مدد وکړي (3): تاسو به د همیشه والا جنتونو ته بوځي، د کومو لاندې چې نهرونه جاري دي (4): تاسو ته به د خُدائے ډله وئیلے شي، د خُدائے والا به شئ (5): غوښتلے کیدونکي مُرادونه به حاصل کړئ بلکې د اُمید او خیال او ګمان نه پهٔ کروړونو درجې زیات (6): د ټولو نه زیات دا چې **اللّٰه** پاک به ستاسو نه راضي وي (7): دا چې فرمائي: چې تاسو زما نه راضي، زهٔ ستاسو نهٔ راضي، د بنده د پاره به د دې نه بل لوئي نعمت څهٔ وي چې د هغهٔ رَبّ د هغهٔ نه راضي وي خو ډیره بنده نوازي دا ده چې فرمائي چې اللّٰه د هغوئي نه راضي او هغوئي د اللّٰه نه راضي- (1)

سُبْحٰنَ اللّٰه! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** معلومه شوه چې د کامِل ایمان پهٔ تقاضو کښې یو دا هم ده چې بنده د اللّٰه او د رسول د ګستاخانو، د بد مذهبو او د بے دِینو سره محبت

1 ...، فتاوٰی رضویه، جلد:30، صفحه:312 بتغیر قلیل-

اونهٔ ساتي، د هغوئي سره دوستي نهٔ پالي، د هغوئي سره تعلق نهٔ ساتي، بلکې دا پوخ ذِهن جوړ کړي چې

جو ان کا ہے ہمارا ہے، یہی دِل کو بتایا ہے
عَدُو سے اُن کے دِل کی دوستی ہونے نہیں دیتے

## د ګستاخانو سره هیڅ محبت نشته

اَلْحَمْدُلِلّٰه! سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ دې صفت کښې هم ډیر کمال لرلو- پهٔ دې معامله کښې هم د **الله** پاک پهٔ هغوئي باندې ډیر کرم وو- هغوئي فرمائي: اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما د ماشومتوب نه د الله او د رسول صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم د دښمنانو نه نفرت دے او د **الله** پاک فضل دے چې دا نفرت زما د بچو، بچو ته هم پهٔ ګُټی کښې ورکړے شوے دے-

## د ګستاخِ رسول د پاره پهٔ زړهٔ کښې نفرت

یو ځل اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه یواځې ناست وو، مخامخ یو عربي راروان وو، د هغوئي عادت وو چې د عربیانو به یې ډیر عزت کولو، که یو عربي به یې ولیدلو نو ودریدو به او د هغوئي تعظیم به یې کولو ځکه چې زمونږه خوږ آقا صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم عربي دے-

نو هغوئي چې عربي ګس ولیدو نو راپاڅیدل یې غوښتل خو پهٔ زړهٔ کښې یې کراهت شان محسوس کړو، زړهٔ وئیل چې مهٔ پاڅه---!! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه دا شیطاني ګزار وګڼلو او د زړهٔ یې وانهٔ وریدل او پاڅیدو، د عربي سره میلاؤ شو، کیناستو، د هغهٔ سره یې درې څلور خبرې وکړې نو معلومه شوه چې ډیر پوخ ګستاخِ رسول دے- **فرمائي**: ما هغه د ځان نه لرې کړو او زړهٔ له مې شاباسے ورکړو چې د الله او د رسول صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم د

ګستاخانو سره هم داسې نفرت ساتل پکار دي۔ [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** په دې کښې هم زمونږ د پاره سبق دے، مونږ له پکار دي چې د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دښمنانو سره دښمني او د دوستانو سره دوستي وساتو۔ نن سبا حالات لږ مشکل دي، د سوشل میډیا دور دے، غیر مسلمه په قِسما قِسم طریقو په مسلمانانو کښې فتنې خوروي، په داسې حالاتو کښې ضروري دي چې مونږ د خپل ایمان حفاظت کوو او د دې بهترینه طریقه کومه چې په حدیثِ پاک کښې ورکړې شوې ده، دا اُصول په خپل ژوند کښې نافذ کړئ: اَلْحُبُّ فِي اللهِ وَالْبُغْضُ فِي اللهِ که د چا سره دوستي کول دي نو د الله د رضا د پاره او که د چا نه نفرت کول دي نو هغه هم صرف او صرف د الله د رضا د پاره۔ [2]

## آیا زما د دښمن سره دې دښمني هم ساتلې وه---؟

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **په حدیثِ پاک کښې دي:** د قیامت په ورځ به یو ګس د **الله** پاک په حُضُور کښې د حساب د پاره پیش کړے شي، پوښتنه به وشي: وواېه څۀ څۀ دې کړي دي؟ عرض به وکړي: ❁ ما د فرض نمونځونو سره سره دومره نفل نمونځونه هم کړي دي ❁ د رمضان روژې خو به مې نیولې، ورسره ورسره مې دومره نفلي روژې هم نیولې وې ❁ زکوٰة خو به مې ورکولو، ورسره مې دومره مال صدقه هم کړو ❁ فرض حج مې ادا کړو، د دې نه پس مې دومره دومره نفلي حجونه هم کړي دي۔ غرض دا چې هغه به خپل نیک اعمال بیانوي، بیانوي، اخر به **الله** پاک فرمائي: هَلْ وَالَيْتَ لِيْ وَلِيًّا وَعَادَيْتَ لِيْ عَدُوًّا آیا تا زما د پاره زما د دوست سره دوستي او زما د پاره زما دښمن سره دښمني هم ساتلې وه---؟ [3]

---

1... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:169۔

2... ابو داؤد، کتاب السنة، باب مجانبة اہل الھواء و بغضهم، صفحه:725، حدیث:4599۔

3... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت صفحه:164، 165۔

**الله! الله!** غور وکړئ! ❀ نـمونځونه هم دي ❀ روژې هم دي ❀ حجونه هم دي ❀ زکوٰة هم دے ❀ صدقې او خیراتونه هم دي ❀ نفلي عبادتونه هم دي، د دې باوجود خبره پهٔ دې باندې مکمل کیږي چې د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دښمنانو نه دې نفرت هم وکړو که نهٔ---؟ معلومه شوه چې د ټول عمر عبادتونه یو طرف ته او د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم محبت بل طرف ته---!! که دا محبت شته نو عبادت قبول دے، که دا محبت نشته نو عبادت بے کاره دے-

**الله** پاک دې زمونږه صحیح پوهه او کامِل ایمان نصیب کړي، **الله** پاک دې زمونږه خپل ربتونے پوخ محبت او د رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کامِل عشق نصیب کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم -

## فتاویٰ رضویه موبائل ایپلي کیشن

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا مختلف موبائل ایپلي کیشنز جاري کړے شوي دي، اوس اوس یو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې دے: **فتاویٰ رضویه** *(Fatawa Razwia)* ❀ پهٔ دې ایپلي کیشن کښې د فتاویٰ رضویه ټول جلدونه شامل دي او د هر جلد د لاندې د رسالو او موضوعاتو مختصر فهرست هم شامل کړے شوے دے ❀ د فتاویٰ رضویه ټولې رسالې (کومې چې د اعلیٰ رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نه د پوښتلے شوو سوالونو پهٔ جوابونو کښې لیکلې شوې وې د هغې) بیل فهرست هم موجود دے ❀ پهٔ ایپلي کیشن کښې ډیر ښکلے فیچر د ایډوانس سرچ ***(Advanced Search)*** دے، د کوم پهٔ ذریعه چې د خپلې خوښې خبره پهٔ اسانۍ سره سرچ کیدے شي، پهٔ یو خاص جلد یا خاص رساله کښې هم د سرچ کولو سهولت موجود دے ❀ پهٔ جلد منتخب کولو پهٔ هغې کښې د خپلې خوښې صفحې ***(Page)*** ته تللے شئ ❀ د الفاظو فونټ

سائز (***Font Size***) هم پهٔ خپله خوښه ایډجسټ کولے شئ ❁ پهٔ ایپلي کیشن کښې د خپلې خوښې خبره پهٔ نوټس (***Notes***) فیچر کښې لیکلے او محفوظ کولے او د خوښې (***Favorites***) پهٔ لسټ کښې یې شاملولے او شیئر (***Share***) کولے هم شئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب!          صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

راځئ چې د بیان پهٔ اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د جومات د چندې نه د ربیع الاَوّل د پاره جومات پهٔ لائټونو ښائسته کول جائز نهٔ دي۔

**وضاحت:** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ربیع الاول تیاریانې شروع دي، د **الله** پاک فضل دے چې عاشقانِ رسول پهٔ ربیع الاول شریف کښې کورنه، جوماتونه او محلې ښائسته کوي، **دا ښائسته کول بالکل جائز دي بلکې د ثواب کار دے**، یوه مسئله واورئ او ځان پرې پوهه کړئ چې د جومات پهٔ چنده باندې د ربیع الاول د پاره جومات پهٔ لائټونو ښائسته کول جائز نهٔ دي، اُصُول دا دې چې چنده صرف پهٔ هُغه کار کښې خرچ کیدے شي، د کوم کار د پاره چې جمع کړے شوې وي۔ عام طور د جومات چنده د جومات پهٔ لائټونو د ښائسته کولو د پاره نهٔ بلکې د جومات د ضرورتونو د پاره کولے شي، ځکه پهٔ دې باندې جومات پهٔ لائټونو ښائسته کول جائز نهٔ دي۔ آؤ! که د چندې جمع کولو پهٔ وخت د چنده ورکونکي نه اجازت واخلې چې ستاسو دا چنده پهٔ ربیع الاول کښې د جومات پهٔ لائټونو د ښائسته کولو د پاره هم خرچ کیدے شي نو بیا پهٔ دې چنده جومات پهٔ لائټونو ښائسته کولے شئ۔ بهتر او د بچت والا صورت دا دے چې جومات پهٔ لائټونو د ښائسته کولو د پاره بیله چنده وکړے شي او پهٔ لائټونو

چې کومه بجلي خرچ کيږي، د هغې پيسې هم د دې چندې نه ادا کړے شي- [1]

اللّٰه پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰہُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰی برکتونه (وظيفه)

يَا مُنتَقِمُ، يَا عَفُوُّ (اے سختي سزا ورکوونکيه! اے معاف کوونيکه!)

اللّٰه دې نهٔ کړي که د چا دښمني وي او ختمول يــې غواړي نو تر دريو جُمعو پورې دې يَا مُنتَقِمُ، يَا عَفُوُّ په کثرت سره لولي، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِيم! دښمني به يــې په دوستۍ کښې بدله شي- [2]

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰہُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1....دارالافتاء اہلسنت، فتوٰی نمبر:Aqs904 خلاصةً۔

2...مدنی پنج سورہ، صفحہ:257۔